# پر چا چې حد جاري شو او په دنيا کې بيړنۍ سزا ورکړل شوه، نو الله تعالی لدې ډېر عادل ذات دی چې خپل بنده ته په آخرت کې دويم ځل سزا ورکړي

له علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «پر چا چې حد جاري شو او په دنيا کې بيړنۍ سزا ورکړل شوه، نو الله تعالی لدې ډېر عادل ذات دی چې خپل بنده ته په آخرت کې دويم ځل سزا ورکړي او پر چا چې حد جاري شو او الله يې پرده وکړه او بخښنه يې ورته وکړه، نو الله تعالی له دې ډېر عزتمند دی چې هغه څه بېرته واخلي چې يو ځل يې بخښلی دی».

[حسن] [الترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم وايي چې چا يوه ګناه وکړه، هغه چې له امله يې پرې شرعي حد لازمېږي لکه: زنا او غلا، بيا خپله سزا وګوري او په دنيا کې پرې حد جاري شي، نو په نوموړي حد سره يې هغه ګناه پاکېږي او په آخرت کې ترې سزا لرې کېږي؛ ځکه الله تعالی لدې ډېر سخي او مهربان دی چې بنده ته دوه سزاګانې سره يو ځای کړي، او الله چې په دنيا کې د چا پرده وکړه او په ګناه سره يې سزا ورنه کړل شوه او الله ورته عفوه او بخښنه وکړه، نو الله تعالی لدې ډېر عزتمند او سخي دی چې د هغې ګناه له امله سزا ورکړي چې يو ځل يې ورته بخښلې ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66211